# لومړۍ نړۍ واله جګړه او د هغې لاملونه

لوېدیځې نړۍ د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پر نړۍ پوځي او اقتصادي واک تر لاسه کړ .په نوموړې پېړۍ کې اروپایي سرتېرو او مقاماتو پر هند، سویل ختیځې آسیا او د افریقا پر ډېرو برخو حکومت کاوه .د بهرني سیاست مامورینو او اروپایي سوداګرو د چین، ایران او عثماني امپراتورۍ اقتصادي او سیاسي چارې په لاس کې درلودې. په لوېدیزه نیمه کره کې متحده ایالات د لوېدیزو قدرتونو په ډله کې نوی مطرح شوی و او په ټوله نړۍ کې په یوه ځواکمن قدرت بدلېده .د وضعې او حالاتو بدلون داسې و چې د عمومي جګړې لپاره یې لار هواروله. د دغه حالت په پای کې لومړۍ نړیواله جګړه پیښه شوه. لومړی د بازارونو پر سر اقتصادي سیالۍ پیل شوې، ورپسې د اروپا اتحاد، هېوادونه یو د بل پر ضد متحد کړل. دربیم،ټولو قومي ډلو قوي ملي پاله احساسات درلودل.

د اروپا صنعتي هېوادونو د نفوذ او مستعمره کولو پر سر یو له بله سره سیاسي سیالۍ درلوده. انګلستان تر 1870 م. کاله پورې په ټوله نړۍ کې تر ټولو مخکې صنعتي هېواد و. وروسته المان په صنعت پیل وکړ او په چټکۍ سره صنعتي شو او د ورلو راوړلو او اړیکو نوې شبکه یې رامنځ ته کړه. الماني سوداګرو له انګلیسی سوداګرو سره د آسیا په ختیځ ،منځني ختیځ او لاتینه امریکا کې بریالۍ سیالۍ پیل کړې. د نړیوال واک پر سر سیالۍ په سمندري وسله واله سیالۍ باندی  بدلون وموند. مهم هېوادونه لکه: د امریکا متحده ایالات او جاپان د خپلو کشتیو د چلونې د خوندیتوب لپاره خپل سمندري ځواک پیاوړی کړ. انګلستان  د کشتیو او لویو سمندري توپونو جوړول پیل کړل. المان چې په اقتصادي برخه کې د هغه اصلي دښمن و، ډېر ژر یې د هغه هیواد تقلید وکړ.

د شلمې میلادي پړېۍ په لومړیو کې د المان د سمندري ځواک چټکه پیاوړتیا د انګلستان د سمندري ځواک ته یو ګواښ و. انګلیس هڅه وکړه چې د سمندري پوځي سیالۍ د پای لپاره له المان سره یوه موافقه وکړي. کله چې دغه هڅه ناکامه شوه، انګلستان د متحدینو په لټه کې شو. فرانسې او انګلستان د خپلو هېوادونو په منځ کې په 1904م. کال کې یو تړون لاسلیک کړ انګلستان په 1907 م. کې له روسیې سره هم متحد شو او د دې درېې هېوادونو اتحاد په(مثلث)تبدیل شو.

د اروپا مهمو قدرتونو په هغه وخت کې په دوو اتحادونو کې یو د بل مخې ته ولاړ وو او دواړو خپل ځانونه وسله وال کول او د عمومي جګړې ګواښ ډېر شو. د بهرني سیاست بدګوماني او بې باورۍ سوله لا د خطر سره مخامخ کړه. تر لومړۍ نړیوالې جګړې دمخه د اتریش ولیعهد سارایو د بوسني مرکز کې ووژل شو. المان نیت درلود چې یوازې له خپل لوی متحد اتریش څخه ملاتړ وکړي. بل متحد یې ایټالیه وه. برعکس روسیې تصمیم ونیو چې صربستان سره مرسته وکړي. روسي پوځ لومړی پوځ و چې د جګړې لپاره تیار شو. د المان حکومت له روسیې څخه وغوښتل چې له دې کاره لاس واخلي. ځکه له دې یې وېره درلوده چې روسیه او فرانسه به یې پر خاوره په یوه وخت یرغل وکړي. روسیې د المان غوښتنه رد کړه او د 1914م. کال د اګست په لومړۍ نیټه المان لومړی روسیې ته او بیا فرانسې ته د جګړې اعلان وکړ.المانیانو د بلژیک ناپییلتوب تر پښو لاندې او د 1914 م. کال د اګست په دریمه یې پر هغه هېواد یرغل وکړ.

یوه ورځ وروسته انګلستان المان او اتریش ته د جګړې اعلان وکړ .په صربستان د اتریش د یرغل تر پرېکړې وروسته په یوه اونۍ کې د دوو لویو اتحادو هېوادونه په جګړې کې ښکیل شول. لومړۍ نړیواله جګړه د 1914 م. کال د اګست په

لومړۍ نیته پیل شوه او د دواړو ترون هېوادونو هیله درلوده چې په چټکۍ سره به بریالي شي، البته ټول په دغه وړاندوینه کې تېروتي وو. روسان په چټکۍ سره منسجم شول. فرانسې فکر نه کاوه چې المان به د بلژیک له لارې حمله وکړي. ایټالیې د المان او اتریش سره په اتحاد کې له جګړې سرغړونه وکړه. اتریش د خپلې ځانځانی له امله ونه توانېد چې پر وړوکې صربستان بریالی شي.

امریکا له اروپاڅخه د جلاوالي سنت وساته. او خپله بېطرفي یې اعلان کړه. ختیځ او لوېدیځې جبهې د جګړې اصلي میدانونه وو. لوېدیځه جبهه د سویس له سرحده پیل او د فرانسې په خاوره کې د شمال تر روده ادامه درلوده. ختیځه جبهه د لهستان په خاوره کې تر روسیې پورې غځېدلې وه. په 1916 م. کال کې ختیځه جبهه په بالکان کې پرانیستل شوه.

المانیان د 1916م. کال په فبرورۍ کې له اقتصادي ستونزې سره مخ شول. د المان د قومندې مرکز د دې لپاره چې له دې ستونزې ووځي، ویې غوښتل، چې په فرانسه کې د وردن پر ښار یرغل وکړي، البته دا یې نه ګڼله چې په جبهه کې به د متفقینو ځواک لوی برى تر لاسه کړي، بلکې دا هیله یې درلوده چې د دفاع په ترځ کې به د فرانسې ځواکونه په تدریجي توګه له منځه یوسی.

د 1915 کال د مې په 7مه یوه الماني تحت البحري کښتۍ پر لوسی تانیا اقیانوس پیما نومې کښتۍ چې د ایرلینډ په سیند کې د حرکت په حال کې وه، یرغل وکړ او دا کښتۍ په چټکۍ سره ډوبه شوه او 1200 کسه په کې مړه شول. له 100څخه ډېر غرق شوي، امریکایان وو. لوسي تانیا انګلستان ته په پټه وسله وړله. د لوسي تانیا غرقېدو المان او متحده ایالات د جګړې ډګر ته راښکیل کړل.د 1916م. کال د مارچ په 24مه المانیانو فرانسوي ولاړه کښتۍ د مانش په سمندرګي کې غرقه کړه او یو ځل بیا د امریکا خلک ووژل شول.

متحده ایالاتو او متفقینو یې د سمندري مراقبتي نظام په وسیله د المانیانو یرغلو ته ځواب ورکړ . د 1918م. کال په مارچ کې د برست لیتوفسک تر ترون 18 ورځې وروسته الماني ځواکونه دې ته اړ شول چې له روسیې څخه لوېدیځې جبهې ته راشي. المانیانو په لوېدیځه جبهه کې وحشتناکه حمله پیل کړه. د درنې توپخانې په بمبارد او ګازي بمونو سره یې حمله وکړه. انګلیسي، فرانسوي او بلژیکي واحدونه یې د سیند لوري ته په شا کړل. د1918م. کا ل په سپتمبر کې بلغارستان له موقتې ډزبندۍ سره موافقه وکړه. عثماني امپراتوري د اکتوبر تر پایه تسلیم شوه. د 1918م. کال د نوامبر په دریمه اتریش، مجارستان د ډزبندۍ منل لاسلیک کړل چې په جګړې کې د هغوی د لاسوهنې د پای معنا یې لرله.

د 1918م. کال د نومبر په 11مه سهار سر تا سري ډزبندي وشوه او په لوېدیځه جبهه کې د توپونو درزا غلې شوه. په پای کې لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېده.

## Kilde:

Ministry of Education of Afghanistan-History.